<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

**د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د رمضان میاشتې د لیدو د پایلې اعلان**

(ژباړه)

بسم الله الرحمن الرحيم والحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

بخاري په خپل صحيح کې له محمد بن زياد څخه روایت کوي، چې هغه وويل: ما له ابو هريرة رضی الله تعالی عنه څخه واورېدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، یا هغه وویل چې ابو القاسم وفرمایل:

**«صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، أ وَ فْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُبِيَ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ»**

**ژباړه:** د میاشتې (رمضان) په لیدلو سره روژه ونیسئ او د میاشتې (شوال) په لیدو سره افطار وکړئ او که اسمان وربځ و؛ د شعبان دېرش ورځې پوره کړئ. (بخاري)

د روژې مبارکې میاشتې له لټون وروسته، نن شپه، یعنې د دوشنبې شپه ثابته شوه چې میاشت په شرعي بڼه لیدل شوې؛ نو سبا دوشنبه، د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د رمضان د سپېڅلې میاشتې لومړۍ ورځ ده .

په همدې مناسبت، زه د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر او د دغه دفتر ټول کارکوونکي د حزب التحرير امير، جليل القدر عالم، شيخ عطا بن خليل ابو رشتة ته مبارکي وایو. له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم چې هغه ته نصرت ورکړي او پر لاسونو یې موږ ته ژر تر ژره د نصرت زمینه برابره کړي .

سږ کال رمضان په داسې حال کې راځي چې نړۍ د اسلامي امت د ارادې، چې د فلسطين سپېڅل خاوره یې په غېږ کې نیولې ده او د استعمارگر غرب د ارادې، چې هڅه کوي اشغالگر یهودي رژیم پر موږ د یو واقعیت په توگه ومني، ترمنځ د ټکر شاهده ده. دغې جگړې ټوله نړۍ مشغوله کړې؛ هغه داسې چې په هر ترېبیون کې چې سیاسي خبرې کېږي، د ترېبیون تر شا ولاړ کس څخه پوښتل کېږي چې دکوم اړخ پلوی دی. دغه ټکر یو لړ مسایل افشا کړل چې باید د هغو پر وړاندې د اسلامي امت د دریځ د درک لپاره بحث پرې وشي:

په دغه ټکر کې په ډاگه شوه شوه چې له یهودو سره د عادي کېدو پروسه له پیل راهیسې یوه ناکامه برنامه ده؛ لکه څرنگه چې ثابته شوه، ټولې هغه خبرې چې مزدورو رسنیو هڅه وکړه د هغو له لارې وښیي چې د اسلامي خاورو خلک ورو ورو یهودي رژیم مني، د حکامو درواغ وو او هغه کسان چې ظاهراً یې دا مفکوره منلې، یوازې یو شمېر ذلیل او لوېدلي کسان دي چې په هره بشري تولنه کې یې بېلگې شته؛ زموږ حکامو دا ډول کسان تر ځان چاپېر کړي چې د همدوی پشان خاینان دي.

همدارنگه د اسلامي امت لپاره ثابته شوه چې د اسلامي خاورو پوځونه د امت د مسایلو په حل کې محوري رول لري. وروسته له هغه چې اسلامي امت د خپلو پوځونو د رول په نظر کې نیولو پرته د حکامو پر وړاندې د عرب پسرلي انقلاب وکړ؛ اوس یې خپلې تېروتنې ته پام شوی دی او پر خپلو پوځونو غږ کوي چې اې د مسلمانانو پوځونو چېرته یاست!؟ ولې د غزې لپاره نه لاس په کار کېږئ؟! دغه چغې ان شاالله د نوي پسرلي زیری ورکوي؛ خو دا ځل به «د مسلمانانو د پوځونو پسرلی» وي؛ داسې چې دغه پوځونه به له خپلو هډو دباندې راوځي، خپل لاسونه د اسلامي امت په لاسونو کې ږدي ترڅو ټول یو ځای دغه امت او د دغه امت دین ته نصرت ورکړي. خو د خاینو حکامو په اړه باید ووایو چې په دغه لیکنه

کې ډېر نه پرې غرېږو؛ ځکه دا حل یې متعفن او بد بوی له هر ځایه پورته شوی چې امت یې لا زغمي خو دې ته په تمه دی چې ژر تر ژره یې ځان له شره خلاص کړي.

اسلامي امت دغه راز د اسلامي خاورو د تجزیې لپاره د دسیسو وزن احساس کړی. د اسلامي امت ځوانانو له ډېرو خاورو هڅه وکړه فلسطین ته ځان ورسوي؛ خو د سایکس – پیکو ترون له مخې رسم شویو پولو یې مخه ونیوله. ډېری مسلمانان پوه شول چې دغه پولې زندان دی او د دې مخه نیسي چې اسلامي امت له یو بل سره مرسته وکړي.

د غزې د خلکو په اړه؛ د ماشومانو، ښځو او زړو په ګډون د دوی کمزورو د مصیبتونو پر وړاندې د خپل صبر او استقامات له لارې وښوده چې د الله کلیمه تر ټولو لوړه ده او د دوی پیاوړو او زړورو بیا د خپل شجاعت له لارې وښوده چې د کفر کلیمه حقیره او لوېدلې ده. نو د غزې خلکو له هغې مستقیمې لارې خاورې او دوړې پاکې کړې چې اسلام رسم کړې؛ ویې ښوده چې د یوه مومن لپاره تر ټولو دنیوي چارو هغه څه پورته دي چې له الله سبحانه و تعالی سره دي او د دوی ځوان مجاهدین تر هغه سترګې نه پټوي چې څو پر دښمن برلاسي شوي نه وي. د غزې خلکو په خپل صبر، استقامت او زړورتیا د نړۍ خلکو ته وښوده چې اسلام په ریښتیا هم تر ټولو لوړ دین دی.

اې مسلمانانو:

احساسات راویښ دي، انځور روښانه دی او لوری معلوم دی؛ د پوځونو بسیج کول، د حکامو لرې کول او د پولو ماتول. مه پرېږدئ چې د غزې د خلکو قربانۍ هسې لاړې شي؛ مه پرېږدئ چې د د روژې مبارکه میاشت د سایکس – پیکو دسیسې له ختمولو او راشده خلافت بیا تاسیسولو پرته تېره شي. د تاریخ په اوږدو کې خلافت د مسلمانانو د پوځونو د یووالي عملي لار وه. دا هغه سیاسي نظام دی چې اسلامي امت یې له لارې خپلو موخو ته د رسېدو او پر دښمن د برلاسي کېدو لپاره هڅې کړې دي. دغو ورځو تاسو ته ثابته کړه چې له خلافت پرته بل هر سیاسي نظام مسلمانانو ته یوازې شرم، ذلت، زیان او ننګ راوړي. د فلسطین د ازادۍ لپاره باید د مسلمانانو خاورې له سایکس – پیکو پولو ازادې شي او دا کار یوازې د مسلمانانو پوځونه کولی شي؛ ځکه دوی هغه کسان دي چې زموږ په خاورو کې ریښتینې قدرت لري. دغه پوځونه ستاسو بچیان دي، نو ویې پاورئ او ویې هڅوئ چې خلافت تاسیس کړي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**«وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَسَى اللهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَاللهُ أَشَدُّ بَأْساً وَأَشَدُّ تَنكِيلاً» [نسأ: ۸۴]**

**ژباړه:** «...او مومنان د جهاد لپاره وهڅوه. لرې نه ده چې الله تعالی د کافرانو زور مات کړي. د الله تعالی زور تر ټولو ډېر او سزا یې تر ټولو سخته ده.»

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د شعبان ۲۹مه**

**۲۰۲۴م کال، د مارچ ۱۰مه**

د صدور ګڼه: ۲۷/ ۱۴۴۵

ژباړن: محمد حامد